بسم الله الرحمن الرحيم

## بې‌ديني حيرانونکې نه، بلکې د پانګوال نظام نه بېلېدونکې برخه ده

## (ژباړه)

په دې وروستيو کې څېړنې ښيي، چې په نړۍ کې دين د له منځه تلو په حال کې دی. دغه راز غربي ټولنې ته په کتو او د سيکولار ـلېبرالېزم په ظهور سره دا کومه حيرانونکې خبره هم نه ده. په فورين افيرز سايټ کې د څېړې شوې مقالې پر بنسټ، ډېرى خلک دين د خپل ژوند ضروري څيز نه بولي. وايي: «دين د مذهب يوه برخه ده؛ ځکه اوس هغو جنسيتي مسايلو ته اړتيا نشته، چې په کلونو کلونو به د نړۍ له اصلي دينونو سره تړلي وو.» دغې مقالې په اروپا او اسيا کې د دين پر راګرځېدو تمرکز درلود. دغه راز د انګليس راډيو ټلوېزيون (بي بي سي) د راپور پر اساس؛ دغه د دين راګرځېدنه په منځني ختيځ او شمالي افريقا کې هم شته او هره ورځ خلک د دې ادعا کوي، چې کم مذهبي دي.

**ايا لازمه ده، چې د دين پرېښودل موږ حيران کړي؟**

نه، د دين پرېښودل بايد حيرانونکي نه وي؛ ځکه د دين د محدوديت لپاره د سيکولار ـلېبرالېزم اساس، شخصي عبادت دی، نو په سازمان ورکولو او د ټولنې په امورو کې هېڅ رول نه لري. دين ته د شخصي عقيدې په سترګه کتل کېږي، چې په فردي ډول عمل پرې کېږي. دغه راز موږ په داسې يوه نړۍ کې ژوند کوو، چې په پراخه توګه سيکولاره شوې او ازادۍ ټاکنې، بشري حقونو، د پردېو زغمل، چاپېريال ساتنې، جنسيتي برابري او د بيان ازادۍ ته يې لومړيتوب ورکړی دی. سرچينه: (فورين افيرز)

ستونزه همدا ده، که د خصوصي ژوند تر څنګ دين وساتو، نو څه ډول بيا پولې وټاکو؟ ايا په تعليمي سيستم کې مو مذهبي زده کړې ته اجازه ورکوو؟ ايا له کورنۍ او ملګرو سره د معاملاتو پر مهال د دين دخالت ته اجازه ورکوو او يا دين ته اجازه ورکوو، چې زموږ په فردي ژوند کې محدويت رامنځته کړي؟ که چېرې دين ته اجازه ورکړو، چې زموږ عملونه رهنمايي کړي، نو تر کومې کچې به وي؟ ايا لازمه ده، چې د نظرونو د اختلاف پر مهال د خپلو پرېکړو اساس دين وګرځوو؟ که دغه اختلافات په قانوني موضوعاتو کې وي، بيا څنګه؟

هغه ټولنه چې په په پراخه توګه لېبراله شوې وي، له دين څخه بېزاري پکې بايد حيرانونکې نه وي او دا يو حقيقت دی. ځکه هغوی داسې يوه ټولنه لري، چې مذهبي عقايد يې د باورونو او کړنو اساس نه، بلکې لېبرالېزم يې اساس دی. يعنې دين د دوی د ژوند برخه نه ده. د پرېکړو اصلي ټکی او محور يې اقتصادي ګټې دي. اخلاق بيا هغه موضوع ده، چې په فردي ګټو راڅرخي. دين د هغو سياستوالو لپاره يوه ښه وسيله ده، چې

په ژورو مذهبي هېوادونو کې لېبرال نظم پرې وساتي او د ټولنې کنټرول پرې تضمین کړي. په لېبرال ټولنو کې فردیت تر ټولنیزتوب ډېر مهم دی او د خوشبخت ژوند افکار په پراخه توګه تیتوي.

برعکس؛ سیکولار کول د یوې پایدارې ټولنې لامل نه دي ګرځېدلي، بلکې له حل لارې پرته یې مختلفې ستونزې راولاړې کړي دي. جنسي تبعیض، جنسي تجاوز، د جنسیت تغیر، د وسلې په وسیله توتریخوالی، وژنه، شکنجه او نسل وژنه؛ د ستونزو هغه موارد دي، چې لېبرال ټولنه یې نه شي حلولای.

لازمه نه ده چې د دین د پرېښودو له کبله دې، موږ دغه موارد حیران کړي. باید موږ په غربي ټولنه کې د خلکو د نارضایتۍ په فکر کې کړي. دغه راز په غربي ټولنه کې د Covid-19 اغېزې یوه ښه بېلګه ده او موږ په یوه تاریخي تحول کې ژوند کوو. غربي نظام د کمزورتیا په حال کې دی او ورځ تر بلې کمزوری کېږي. غربیان د نوو کسانو په ګومارلو او خپلو احمقانه طرحو سره، غواړي خپلې تشې ډکې کړي، چې په دغو بحثونو کې د دین ضد احساسات او له دین او مهاجرینو سره دښمني کوي. دا هغه مکر دی، چې دوی یې همېشه د ستونزو پر مهال کاروي. دغه راز اسلامي امت یې خپل دښمن ګرځولی، څو خلک د خپلو ستونزو حل په اسلام کې ونه لټوي؛ خو دغه حالت باید موږ ته د اسلامي دولت د تاسیس فکر راکړي او موږ باید د دغې موخې لپاره دا یو ښه چانس وبولو.

هېره نه کړئ، چې اسلام د نورو دینونو په شان نه دی. اسلام د انساني ستونزو لپاره جامع افکار او حلارې لري. دغه راز زموږ د ژوند پر ټولو برخو اغېزه لري، د اسلام تاریخ او د اسلامي دولت بریاوې یې ښه دلیل دی. اوسنی حالت دا ښیي، چې اسلام په پوره توګه نه دی پلی شوی.

**موږ د اسلامي دولت تاسیس ته اړ یو!**

دین له دولت څخه بېلولناممکن دي. واقعیت دا دی، چې موږ یوه داسې اساس ته اړتیا لرو، چې زموږ د ژوند امور تنظیم کړي. په رښتیا چې له ډول ډول نفساني غوښتنو سره، انساني عقل د احکامو د صحت او غلط لپاره معیار نه دی. نو په دې ډول دین داسې یو څه نه دی، چې هغه ځنډې ته کړو او په فردي ژوند پورې یې محدود کړو. زیاتې ستونزو او ټکرونه دي، چې دغه امر رامنځته شوی او دا ناممکنه ده، چې دین د ژوند په یوه برخه پورې محدود کړو. که په سمه توګه اسلامي دولت ایجاد او تطبیق شي، نو اسلام دغه ډول ستونزې نه لري. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِيناً**﴾ [مائده: 3]

***ژباړه:*** *نن مې ستاسو دین درپوره او خپلو ټول نعمت مې درکړ. اسلام مې د دین په توګه ستاسو لپاره غوره کړ.*

دغه راز باید ووایم چې غرب او پلویان یې په دې هڅه کې دي، چې موږ د لیبرالېزم په طرف بوځي، خو لا هم اسلامي امت له اسلام سره خپلې اړیکې نه دي پرېکړي. باید هېر نه کړو، چې څه ډول باید اسلام تطبیق شوی وای، هغسې نه تطبیق کېږي. د اسلامي دولت بیا تاسیس په دې مانا دی، چې زموږ د ټولو پرېکړو اساس د الله سبحانه وتعالی احکام دي. دا ناممکنه ده، چې یو سیکولار نظام دې اسلام تطبیق کړي او یا دې اسلام سمون ورسره ولري. په اسلام کې اخلاق د بحث وړ موضوع نه ده، الله سبحانه وتعالی زموږ خالق دی، چې زموږ اړتیاوې ښې ورته معلومې دي. احکام یې زموږ لپاره ټاکلي، څو زموږ او نورو کیفیت او اړیکې وښیي. د دین او دولت امور واجب دي، چې یو ځای وي، نه بېل.

دغه امر زموږ د ژوند د ټولو اړخونو توازن ساتي، ټولنه او فرد تر خپلې اغېزې لاندې راولي. قوانین او احکام زموږ د ژوند په ټولو برخو کې شامل دي او دغه احکام د خلکو د ساتلو او هغوی ته یې د حقونو د ورکولو لپاره دي.

**لیکواله: فاطمه مصعب**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**ژباړن: حبیب الله حبیب**

**۲۰۲۰م، د اکتوبر ۱۲مه**